AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۳/۰۸/۲۷

# غزل

د زړه کور درته مکان کړم، که يې پرېږدم
ذکر ستا د هر احسان کړم، که يې پرېږدم

د سپوږمی د ځورلسمي په څېر ښکاري
چې مې زړه درته پيزوان کړم، که يې پرېږدم

د غزل مطلب د يار توصيف، ثناء ده
تا نه جوړ د ژوند عنوان کړم، که يې پرېږدم

درې ورې دې ښکلاوې د جهان شي
تا نه جار دا ټول جهان کړم، که يې پرېږدم

ستا درګاه ته يم ارمان سره راغلی
چې پوره مې دا ارمان کړم، که يې پرېږدم

د سرو شونډو ښکليدو ته پسرليه
دې مزل کښې ځان ستومان کړم، که يې پرېږدم

مصطفی پسرلی
26/Aug/2023


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ